مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۷/۱۲/۱۹

# للو، للو

## «LalloLallo»

(د ماشومانو له پاره ځانګړې کيسې)

«بيزوګی»

دويمه کيسه

بـيـبـو، بـيـبو ښـايـسـتـه ده
دا د مــــور د زړه تــوټـه ده

خـپـل غـاښـــونـه بـــرسوي
غـــاښ لـه درده، ځــان ساتي

بـيـبـوګـکـه اوس بيـديـــږي
سبـا ګل غـــوندې ويـښيږي

لـــلـــو،لـــلـــو، لـــلـــو
خوب دې درسي پـــــه ليمو






افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مخکي له دې چې زه په اصل مطلب پیل وکړم، د دې خبرې یادول راته اړین دي چې  د للو للو په لومړۍ برخه کې د «زموږ په هیواد کې د داسې کیسو تاریخي پس منظر ته یوه کتنه» تر سر لیک لاندې د دې کیسو پر لومړنیو تومنو غږیدلی وم. هلته مې دا موضوع هیره شوه چې دلته یې یادم:
په پخوانیو وختو کې به په ځینو کورنیو کې د کورنۍ مشرانو د ماخوستن له خوا ځیني کیسې کولې لکه: آدم خان درخانۍ، شرین فرهاد او ...
او کله کله به یې د دیوانو او پیریانو ډارونکي کیسې هم کولې. دا کیسې به کله، کله دومره ډارونکي وې چې  تر کیسو وروسته به ماشومان له ډاره له کوټې نه هم نه شوای وتلی چې په دې صورت کې د دې کیسو له ګټې نه تاوان ډیر و او له رواني پلوه به یې ماشومانو ته ضربه ور رسوله.

## او اوس هم د للو للو دویمه برخه:




د للو للو لومړۍ او دویمه برخه چې ما ولیدلې او د زړه په غوږ مې واوریدې، دا کیسې په خورا دقت او نوې بڼه د ماشومانو او کوچنیانو له روحیې او غوښتنوسره سمې لیکل شوې دي. دا چې نجیبې لیمې ځنګه د ماشومانو کیسو لیکلو ته مخه کړه دا په خپله د دې کیسو د لیکلو د انګیزې په باب په ډیره هنري او ښکلې بڼه داسې لیکلي دي:

«له خړکۍ تر للوللو
د خړکۍ د کیسو نه وروسته چې ١٦ کاله مخکې مې لیکلې په منظمو لیکنو کې اوږده وقفه راغلې وه، ځان ته مې لیکلې خو د خپرېدو کار یې پاته و.
زه د د بي بي سي پښتو انلاین مشر اسماعیل میاخېل نه مننه یم چې د کیسو د لیکلو غږ یې راباندې وکړ.

میاخېل صاحب د تل په شاني د نوښت په ډګر کې تر مورږ تولو دمخه دی، هغه راته د ټلویزیوني سټډیو، نوي ډیزاین، پر ډیجیټلي نړۍ او ټلویزیون د خپرېدو او وروسته د کتاب انځور مخ ته کېښود، د ده د الوتنو کچ او لیوالتیا چې مې ولیده نو ما هم ورته تکل وکړ.
یو وار بیا مې هغه لمبه را په زړه شوه کله چې مې خړکۍ ته کیسې پیل کولې، هغه وخت دوو پېښو پر ما خورا سخت اغېز کړی و.

**ځنګه مې خړکۍ ته پام شو؟**

په کابل کې د ۱۹۹۰ کلونو د کورنیو جګړو پر مهال مې خو کوچنیانو ته کتل، زه په دوهم پوړ کې ولاړه وم او د ځلورو پنځو کلونو کوچنیانو لاندې د بلاک مخ ته لوبې کولې. دوي منډې وهلې، خندل یې او یو بل یې پوري وهل،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خو چي غوږ مي ورته ونيوی نو د دوي خبرې د ماشومانو په شان وې، د سوځېدلي ټوټه شوي کابل جګړو د دوي خبرې هم اغېزمنې کړې وې.
د دوي په منځ کې يو څلور کلن هلک پروت و، د همدغه عمر نجلۍ ناري وهلې " ژوندی به پاته شی، امبولانس راوغواړئ".
بل کوچني هلک بيا ويل" ډېره وينه يې نه ده توې شوې، که خدای کول پاته به شي." او بيا بله نجلۍ د امبولانس په شان د "تيو تيو" په غږ کې راغله.

دوهمه خاطره مي د بلوچستان د سرانانو د کمپ ده، د افغان کډوالو يوې کوټې ته ننوتم، څلور پينځه کوچنيان مي شاوخوا ولاړ وو، د دوي وېښتان د لمر په شان ځلېدل، بس په ټوله کوټه کې هم دغه رنګ و، د دوي مخونه لاسونه د يخ له امله نسواري رنګه خيړ نيولی و، کالي يې شلېدلي او خيرن وو، شاو خوا په کوټه کې هر څه خړ پړ وو، د دغو کوچنيانو د شنو سترګو له پاره په دې کوټه کې رنګ نه و، هم هلته مي دا هيله را وټوکېدله چي کاشکي رنګه کتابونه راسره وای کاشکي د کوچنيانو کيسې راسره وای.
لندن ته له را رستنېدو وروسته مي د کوچنيانو کيسې پيل کړې.
نن ورځ که په افغانستان او پښتونخوا کې په پښتو ژبه خبرې رسنيو، او ټلويزيونونو پرمختګ کړی خو په پښتو ژبه د ماشومانو له پاره د ليکنو ډېره اړتيا ليدل کيږي.
هيله لرم د "للو للو" دغه لړۍ تر کوچنيانو ورسيږي. د کيسو انځورګره مي د کابل يوه ۱۹ کلنه نسيمه محمدي ده چي زما کرکټرونو ته يي په خورا مينه مخونه ورکړی. د ميندو او پلرونو نه مو هيله دا ده چي د کوچنيانو غبرګون په ويډيويي توګه تر موږ راورسوي، چي د راتلونکو ليکنو پر مهال يي په پام کې ونيسو».

د للو للو په دويمه برخه کې ليمي د بيزوګۍ کيسه د ماشومانو او کوچنيانو په ژبه او د دوی له دنياګۍ سره برابره او په ماهرانه ډول يي ماشومانو او کوچنيانو ته په خطاب کې ويلي هم ده. په دې کېسه کې د ميندو پلرونو او ماشومانو په منځ کې د باور موضوع چي د وړو په راتلونکې ژوند کې ډېره د ارزښت وړ موضوع بلل کيږي، مطرح شوې او دغه راز د پاکوالي په برخه کې د غاښونو ساتل او مخکې له خوبه د غاښونو برسول هم مطرح شوي دي. بيبو يا وړه بيوزوګۍ چي د غاښونو د نه ساتلو او نه پاکولو په منفي پايلو باندې پوهيږي، بيا نو د ډاکتر او مور خبرې مني او غاښونه پاکوي او ساتني ته يې تل پام کوي، نو مور هم په ډېرې مهربانۍ سره له خوبه مخکې دا ترانه ورته وايي:

بـيـبـو، بـيـبو ښـايسـتـه ده
دا د مـــور د زړه ټــوټــه ده

خـپـل غـاښــونـه بــرسوي
غـــاښ لـه درده، ځـان ساتي

بـيـبـوګـکـه اوس بـيـديـږي
سبا ګل غـــوندې ويښيږي

لـــلـــو،لــــلـــو، لــــلـــو
خوب دې درسي پــــه ليمو

د دويمي کيسې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ